PASHTO

**يوازې بيرته راستانه کړئ که چيرې زده کونکي بهر وتل غوره کوي**

ګرانو والدينو او سرپرستانو:

د تلسا عامه ښوونځيو د ښوونځي بورډ مقرراتو په ملاتړ، د تلسا روغتيا ځانګه / د تلسا د ځوانانو خدمتونه به د مثبت مخنيوي PLUS نصاب **ټولو نهم ټولګي زده کونکو ته وړاندې کړي چې په BRIDGE يا فزيکي روزنې / ROTC ټولګي کې ثبت دي.** دا ۱۳ ماډلونو لرونکی، شواهدو پر بنسټ پروګرام زده کونکو ته هغه پوهه، ځان باور، او مهارتونه ورکوي چې د جنسي انتقالي ناروغيو (STIs)، د انسان معافيت کمزورتيا ويروس (HIV)، او غير پلان شوې اميندوارۍ خطر کمولو لپاره اړين دي. دا نصاب د متحده اياالتو د روغتيا او بشري خدمتونو ځانګې لخوا په بشپړه توګه بياکتنه شوی دی. ټول درسونه طبي پلوه دقيق، د عمر لپاره مناسب، او د ټولو زده کونکو لپاره شموليت لري. دا نصاب به **د تلسا روغتيا ځانګې يا د تلسا د ځوانانو خدمتونو لخوا** روزل شوي ښوونکي تدريس کړي.

*مثبت مخنيوي پلس/جمع عالي ليسه* لاندې معلومات پوښي:

- د ځوانۍ وده او پرمختګ
- د راتلونکو پلانونو لپاره د هدف ترتيب
- د انسان د بدن د غړو پيژندنه او د انسان د توليد نسل طريقه
- پرهيز، د غير پلان شوي اميندوارۍ د مخنيوي يوازينی ځانګړي لار، او STI's، لکه HIV
- محلي سرچيني لکه د تولسا روغتيا ځانګه، د ټولني روغتيا ارتباط، او نور د سيمې روغتيايي مرکزونه چې د توليد روغتيايي پاملرني وړاندې کوي
- د غير پلان شوي اميندوارۍ خطر پيژندل او کمول، او د STIs خپرونه، لکه HIV
- د HIV او Acquired immunodeficiency syndrome (ترلاسه شوي د معافيت سنډروم) (AIDS) په اړه ټولنيز نظرونه، د HIV انفيکشن په اړه افسانې او بابيزه مفکورې
- HIV او نور STIs څنګه خپريږي، د HIV او STI's د مخنيوي لپاره منظور شوي طريقې، لکه پرهيز او کنډوم/پوکانۍ
- د HIV او نورو STIs درملنه څنګه کيږي
- اميندوارې څنګه واقع کيږي، په شمول د مخنيوي طريقې
- صحي اړيکې او د غير صحي چلندونو او حالاتو څخه ډډه کول

د *مثبت مخنيوي پلس/جمع هدف!* ځوانان د هغه انتخابونو کولو لپاره ځواکمن کول دي چې د دوی د غير پلان شوي اميندوارۍ يا په HIV او نورو STIs اخته کيدو خطر به کم کړي.

د زده کوونکو برخه اخيستنه داوطلبانه او محرمه ده. ايا زده کونکی په *مثبت مخنيوي پلس/جمع* کې برخه اخلي يا نه**!** د عالي ښوونځي نصاب، د دوی د والدينو يا سرپرست انتخاب (خوښه) دی. ستاسو د زده کونکي د کورس درجه (نمره) به اغيزمنه نشي که چيرې دوی نه غواړي په پروګرام کې برخه واخلي. تاسو په هر وخت کې د خپل ماشوم له دې پروګرام څخه د لرې کولو انتخاب کولی شئ.

د زده کونکو به د پروګرام اغيزمنتيا ارزولو لپاره سروې وشي او د پرهيز، رضايت، جنسي ارادې، د حمل مخنيوي کارولو، د هدف ترتيب، د صحي او غير صحي اړيکو پيژندلو، د موضوع سره آرامتيا او د ډيموګرافيک معلوماتو راټولولو په اړه پوښتنې ترې وشي. د سروې کاپي بياکتنه د والدينو د مخکتنې په شپه کې کيدی شي. د پروګرام ارزونې سروې ناپيژندويه ده. د سروې د ځوابونو څخه کوم راپورونه به په لنډيز کې وي. راپورونه او سروې به د پروګرام برخه اخيستونکو پيژندنه نه کوي. سرپرستان دا اختيار لري چې د خپل زده کونکي لپاره د سروې څخه بهر ايستل غوره کړي، پداسې حال کې چې لاهم په پروګرام کې برخه اخلي.

**ښوونځی به د والدينو مخکتني شپه کوربه کړي چيرې چې تاسو به د *مثبت مخنيوي پلس/جمع* نصاب نصابي عمومي کتنه ترلاسه کړئ!**

**مهرباني وکړئ د خپل ښوونځي د مثبت مخنيوي پلس/جمع سايټ همغږي کونکي سره د خپل انفرادي ښوونځي والدينو مخکتني شپې نيټې لپاره وګورئ.**

**که چيرې تاسو د والدينو په مخکتني شپې کې د ګډون کولو وړ نه ياست، د نورو معلوماتو لپاره د QR کوډ سکين کړئ:**

**که چيرې تاسو نورې پوښتنې لرئ مهرباني وکړئ د خپل ښوونځي سايټ کې د مثبت مخنيوي پلس/جمع سايټ همغږي کونکي سره اړيکه ونيسئ.**

که چيرې تاسو **نه** غواړئ چې ستاسو ماشوم په پروګرام يا د پروګرام په سروې دواړو کې برخه واخلي، مهرباني وکړئ لاندې بکسونو څخه يو په نښه، لاسليک کړئ او دا فورمه بيرته راستانه کړئ.

☐ زما زده کوونکی، ______________________، د پروګرام په سروې کې برخه **نشي** اخيستلی، مګر **کولی شي** په پروګرام کې برخه واخلي.
(د زده کونکي چاپ/واضح نوم)

☐ زما زده کوونکی، ______________________، په پروګرام کې برخه **نشي** اخيستلی.
(د زده کونکي چاپ/واضح نوم)

| | | |
|---|---|---|
| ______________________ | ______________________ | ______________________ |
| د والدين/سرپرست لاسليک | نېټه | د زده کونکي د ID (پيژندنې) شميره |